مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مصطفی پسرلی

۲۰۱۸/۱۲/۰۱

# غزل

پښتون کافر شو، پښتنه کافره
جومات کافر شو، مسله کافره

یمه په ویاړ د پلار، نیکونو غره
په سر کښې دا لرم نشه کافره

د انسانیت په ژوند او مرګ پوه نه شوم
د دې وحشت دا سلسله کافره

دا چې د دین په نوم رڼا راولي
زاهده! ستا ده تولـه شپه کافره

څو چې طالب ښځه امام جوړېږي
زمونږ به بولي دوی سجده کافره

دلته سودا شي د ممبر او محراب
دلته اوس خرڅه شوه قبله کافره

ای پسرلیه نور یې سترې کړمه
د ژوندون هر یوه لمحه کافره

مصطفی پسرلی

25/11/2018



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ